د الله تعالى دا قول (وَقَالُوا لا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلا سُوَاعًا وَلا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا) او ويې ويل (خپلو خلکو ته): تاسو خپل معبودان مه پرېږدئ او تاسو مه پرېږدئ (عبادت د) وَد، او نه (د) سُواع او نه (د) يغوث او يعوق اونسر. ابن عباس - رضي الله عنهما -فرمايلي : دا د نوح له قوم څخه د نيکانو سړيو نومونه دي.

ابن عباس - رضي الله عنهما - د الله تعالى د دې قول اړوند : (وَقَالُوا لا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلا سُوَاعًا وَلا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا) فرمايي: دا د نو ح - عليه السلام - له قوم څخه د نيکانو سړيو نومونه دي، کله چې هغوی وفات شول، شيطان يې قومونو ته په فکر کې وروغورځوله چې خپلو مجلسونو او د ناستې په ځايونو کې بتان نصب کړئ او د دوی په نومونو يې ونومولئ، نو دوی دا کار وکړ، خو عبادت يې ونه شو، تر دې چې هغوی مړ شول، علم له منځه لاړه او د - همغو - بتانو عبادت وشو.

[صحيح] [بخاري روايت کړی دی]

ابن عباس - رضي الله عنهما - دا آيت کريمه داسې تفسيروي: دغه معبودان چې الله تعالى يې په اړه يادونه کړې ده، د نوح - عليه السلام - قوم يې په اړه يو بل ته په خپلو کې په پرلپسې توګه د عبادت سپارښتنه وکړه، وروسته لدې چې د هغوی پيغمبر نوح - عليه السلام - هغوی په الله تعالى له شرک څخه منع کړل- ويې ويل - دا په اصل کې د هغوی د نيکانو خلکو نومونه دي ، هغوی شيطان تيرويستل تر دې چې د - نيکانو- مجسمې يې نصب کړې، دا خبره دې حد ته ورسيده چې په بتانو واوښتل او له الله پرته يې عبادت وشو.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3421